**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

هاري

واشنګټن ۲۵/۰۷/۲۰۰۹

# د جمهوري رياست له مناظرې څخه شاتګ

د جمهوري رياست له لمړۍ تيلويزيوني مناظرې څخه د حامد کرزي نابېره شاتګ غربي اخبارونه او مبصرين هک پک کړل، ځکه له يوه داسي تبليغاتي فرصت څخه چي په ملي او بين المللي سويه اډيېنس لري نټه کول هرومرو بايد تر شا يو بل ډېر قوي دليل ولري، نه دا چي طلوع بېطرفه نده او يا وخت کم وو. حقيقت دا دی چي په ملي مسايلو کي د جمهوررييس فعال ګډون د هغه دمقام له مهمو مسوليتونو څخه يو مسوليت دی. په ملي سياسي ډيالوګ کي برخه اخيستل د جمهوررييس د مقام شان اوشوکت زياتوي، ځکه په قانون کي د ولسمشر لمړی مسوليت خلکو ته دی. د خلکو ازاده اراده د مشروعيت او صلاحيت يوازنۍ مشروع او ديموکراتيکه زلاله سرچينه ده. همدا مهمه مسله د جمهوررييس د رسمي لوړي مهم جز دی. اوس نو، اساسي سوال دا دی که چيري يو جمهوررييس د خپل ريکارډ او سابقې دفاع نه سي کولای هغه به د ولس ګټي څرنګه وساتي؟

په عين حال کي، د اکثرو مبصرينو په ګومان حامد کرزی ددې جوګه ندی چي د خپلو سياسي رقيبانو سره مخامخ په تيلويزيوني مناقشې کي برخه واخلي ځکه هغه دننه او بهر زيات مشکلات لري. بلخوا، په مخامخ او تيلويزيوني سياسي مشاجرو کي غښتلي روحيات، تېره منطق،پوست مګر مصمم انځور، او له اډيېنس سره شخصي او محسوس تماس ټينګول حياتي اهميت لري. خلک غواړي چي د خپل مشر عکس العمل د سختو شرايطو او د سياسي حريفانو له پر پسې انتقادونو او ګوزارونو لاندي ووينې. ايا هغه استقامت او مقاومت کوي او که ميدان خوشي کوي او تيښتي؟

د دغو بدو واقعيتونو په پام کي نيولو سره حامد کرزی او د هغه سلا کاران دې نتيجې ته ورسېدل چي له تيلويزيوني مناقشې څخه ببخي تېر سي، ځکه که چيري په مناظرې کي حامد کرزي برخه اخيستې وای خامخا به يې داسي خبري او عجايباتي ويلي وای چي د هغه د کمپين د ټولو مداريانو او استخاره چيانو د دم او چو سره سره به د سمولو او ترميمولو نه وای. نو بنا، هغوی سوچ کړی دی چي يارانو "يک نې و صد اساني." خو اوس سوال دا دی چي تر څه وخت پوري به ښاغلی حامد کرزی په ارګ کي پټ او غلی ناست وي. انتخاباتو ته قريب يوه مياشت لا پاتې ده. پدې يوې مياشتي کي به د حامد کرزي کمپين څه کوي؟ څرنګه امکان لري چي يو جمهوررييس چي د بيا انتخابېدو شوق يې هم کړی وي له تيلويزيوني مناظرې څخه پټ سي؟ که چيري هغه بيا انتخاب سي د افغان ولس لپاره به يې عواقب څه وي؟

کله چي يو سياستوال بد ريکارډ او سابقه ولري، هغه تل له پوه او پاک رقيب څخه ډارېږي. دا راز سياستوال په دسيسو او معاملو ګوزاره کوي، په رشوت او ناروا وعدو مذبذبه خلک رانيسي او د ځان ملګری کوي يې. لنډه داچي د ټګۍ برګۍ په زور خپل مقام ساتي. د هغوی استدلال غښتلی او قانع کونکی نه وي. پاخه او روښانه دلايل او پلانونه نلري، او عيني واقعيتونه يې مل نه وي. دليلونه هله محکم وي چي تر شا يې يو کتار عيني او مادي واقعيتونه ولاړ وي. خو په مازي تشو خبرو، وچو ژمنو، او پرله پسې لاپو شاپو څه نه جوړېږي. او نه هم په وچ ډبي د چا سر غوړېږي. اوس نو، د ارګ د ټمبلتون عالي شورا ته بايد په ډاګه سي چي له سياسي مناظرې څخه پټېدل، د انتخاباتي مقابلې له ډګره تيښېدل،په ارګ ننوتل، او ځان پخپله کلابند کول د نجات خلاصون لاره نده، چاره دا ده چي ګردسره کابل پرېښودل سي، له انتخاباتو څخه چورلټ لاس په سر سي، او په اصطلاح قر وويل سي. پدې اونۍ کي د ټولو مضامينو لنډيز لولئ.

د واشنګټن پوست ورځپاڼه د جولاي پر ۲٤ مه ليکي جمهوررييس حامد کرزی د خپلو رقيبانو سره په تيلويزيوني مناظرې کي حاضر نه سو. هغه وايي د مناقشې لپاره کافي وخت نوو ورکړه سوی او هم يې د طلوع تيلويزيون د چلونکو بېطرفي تر سوال لاندي کړه.

مګر د هغه سياسي رقيبان حامدکرزی پدې تورنوي چي هغه د اتو کالو په ترځ کي يو لړ اشتباهات کړي دي. د ښاغلي اشرف غني او ښاغلي عبدالله تر مينځ دوه ساعته تيلويزيوني مناظره مهذبه او چندان جنګي نوه. د بحث محوري ټکي د هېواد خراب امنيتي حالت، بد اقتصاد، او د سياسي مشرتوب نشته والی وو.



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

واشنګټن پوست لیکي مناظره د افغانستان د دوو داسي راتلونکو مشرانو تر مینځ وسوه چي ځرګند مخالف طرز او ستیال لري. عبدالله چي نیکټایي او دریشي کړی ولاړ وو، دیلوماتیکي خبري یي کولې او پر حامد کرزي یي چندان سخت انتقادونه نه کول. خو ډاکټر عبدالله په مناظرې کي د حامد کرزي نه ګیون ته داسي اشاره وکړه، "د حکومت د نا قابلیت او غفلت یو دلیل دا دی چي حکومت د خلکو غوښتنو ته جواب نه ورکوي لکه نن چي جمهوررییس دلته نسته چي ستاسو سوالونو ته جواب ووایي."

په مقابل کي، ډاکټر اشرف غني په اصیلو افغاني جامو کي ولاړ او د حامد کرزي پر اداره یي پاخه او لمسونکي انتقادونه کول. هغه وویل د کورنیو چارو وزارت ته د کابل د پولیسو شمېر معلوم ندی. ښاغلي اشرف غني زیاته کړه، "که چیري تاسو فکر کوئ چي پدې تېرو پنځو کلونو کي پرمختګ راغلی دی، حکومت ته رایه ورکړئ. که نه نو انصاف او عدالت ته رایه ورکړئ." اشرف غني د اقتصاد د بیا را ژوندي کولو لپاره دقیق او مفصل پلانونه وړاندي کړل.

واشنګټن پوست وایي اکثره سیاسي مبصرین عقیده لري چي انتخابات به دوهم پړاو ولري. که چیري انتخابات دوهم پړاو ته وغزېدل د حامد کرزي مقام به له سختو چلنجونو سره مخامخ سي.

په همدې لړ کي، د ګاردین ورځپانه د جولاي پر ۲۲ مه له کابله پخپل یو رپوټ کي لیکي د جمهوري ریاست په لمړنی تیلویزیوني مناظرې کي د حامد کرزي پوډیم تش تور ولاړ وو. حامد کرزی لګیا دی د نورو جنګسالارانو سره معاملې کوي. یو غربي ماهر چي له ځو کالو راهیسي په کابل کي اوسېږي وایي، "کرزی پر جنګسالارانو حساب کوي، مګر زه فکر کوم چي د هغوی د رایو د شمېر په باب یي غلط قضاوت کړی دی. د جهاد په پېر کي، دوستم او فهیم د خلکو اتلان او هېروګان نه ول. هله عامه افغانانو له هغوی ځخه کرکه لرله. د طالبانو د بیا راتګ یو دلیل همدا ځرګند وارلاډېزم دی."

ګاړدین ادامه ورکوي او لیکي اشرف غني فکر کوي چي د حامد کرزي د نه ماتېدو طلسم هغه وخت مات سو چي د امریکا سفیر ښاغلي کارل یکینبیري له ټولو مخکښو کاندیدانو سره ملاقات وکړ. افغانانو همدا عمل داسي وانګېری چي ګواکي د اوباما حکومت له حامد کرزي ځخه ځان لیري کوي. د حامد کرزي دفتر همدا ملاقات د افغانستان په داخلي چارو کي د امریکا د "مستقیمي مداخلې" په کلماتو وغانده. اشرف غني زیاتوي، " کرزی په جنوب او شرق کي ستونزي لري، هلته خلک جمهوررییس ته سخت په قهر او غوسه دي."

یو افغان تجار وایي،" د حامد کرزي کمپین کټ مټ د هغه حکومت ته ورته دی. خلک راسه او چپه غلا او کیسه بری کوي. حتی د هغه عسکونه لا پر دې سي کاغذونو باندي چاپ سوي ول او سرېښ یي دونه بې سېکه ول چي فقط ځو شپېي له لګولو را وروسته د جمهوررییس ټول عکسونه پخپله سرکول را ولوېدل."

بلخوا، لاس انجلس ټایمز اخبار د جولاي پر ۲۱ مه پخپلي سر مقالې کي لیکي له یوې خوا د عراق ځخه د امریکایي قواوو راوتل پیل سویدي، خو له بلې خوا په افغانستان کي جنګ لا ګرم سوی دی. د جولای میاشت د امریکایي عسکرو لپاره تر ټولو مرګانی میاشت ده. یو عسکر اسیر، په لسهاوو برتانوي او امریکایي عسکر مړه او ټپیان، او ځو جنګي طیارې را غورځېدلي دي. د اوباما په امر په افغانستان کي د امریکایي عسکرو شمېر ٦٠٠٠٠ ته رسېدلی دی، نور نو دا جنګ په تمامه مانا د ښاغلي اوباما دی.

د بهرنیو چارو وزیري مېرمن کلنتن تېره اونی وویل د امریکا عسکر په افغانستان او پاکستان کي د القاعدې او طالبانو پرخلاف جنګېږي. د دفاع وزیر ښاغلی ګېټس اعتراف کوي او وایي که چیري په یوه کال کي دننه په افغانستان کي پرمختګ را نه سي عامه امریکایان به نور له جنګه ملاتړ ونکړي. په افغانستان کي موږ له ځو ستونزو سره مخامخ یو. لمړی، د متحده ایالاتو په ملاتړ د جمهوررییس حامد کرزي صلاحیت تر کابل نه تېرېږي. دوهم، ځنګه چي د عسکرو شمېر زیاتېږي په هغه اندازه د امریکایي عسکرو مرګ ژوبله هم ډېرېږي. دریېم، د اوباما حکومت مجبوره دی چي دا ثابته کړي چي القاعده او طالبان په رشتیا ختموي نه دا چي هغوی د امریکایي عسکرو ځخه مازي تبتي او د افغانستان او پاکستان په غرنیو سیموکي سره راغونډېږي.

د لاس انجلس ټایمز اخبار سوال مطرح کوي او وایي، ځرنګه به عامه امریکایان پوه سي چي موږ هلته پرمختګ کوو؟ ایا د جمهوررییس حامد کرزي بیا انتخابېدل پرمختګ دی؟ د هغه حکومت خو په غلا او رشوت شهرت لري.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ایا د څو ولایاتو ارامول پر مختګ دی؟ که چیري هدف دا وی کوم ولایات؟ اوباما غواړي چي په افغانستان کي اقتصادي او انکشافي پروژې فعاله کړي، خو په یوه کال کي به د څو پروژو نتایج او اثرات معلوم سي؟

بل پلو، د ټایمز مجله د جولای پر ٢٤ مه لیکي د افغانستان په ارتباط توقعات را کښته کېږي. په افغانستان کي کامیابه کېدل او هلته د امریکا د پوځي نقشو برى که لسیزي و نه غواړي کلونه خو به خامخا وغواړي. بلخوا د عامه امریکایانو حوصله ورو رور تنګېږي. د جمهورریس مرستیال جو بایډن وویل نورو امریکایي سربښندنو ته اړتیا سته. هغه زیاته کړه موږ مجبوره یو چي دا قیمت او قرباني ورکوو څکه ټروریزم اروپا او امریکا ته خطرونه ایجاد کړیدي.

د ټایمز مجله لیکي د نظامي چارو ماهر انتوني کوردزمن وایي،"ښکاره خبره ده چي موږ د ګټولو لپاره په کافي اندازه پیسي نوي اېښي. موږ د کامیابي لپاره په کافي اندازه عسکر نه وو لېږلي. او نه مو هم د میدان د ګټولو لپاره افغاني امنیتي قواوو ته په کافي اندازه منابعې ورکړې وې. هغه وایي: د ګټولو چانس ډېر کم دی، او د ناکامی نښي نښاني هر ځای تر سترګو کېږي. امریکایان باید پدې ښه ځانونه پوه کړی چي د افغانستان جنګ اوه کاله په وچي ګېډي او مازي بخور نه میر چلېدی. هر څه د امریکا غلطو تصمیمونو او اشتباهاتو را مینځته کړیدي. د همدې ستونزو له وجې یاغیانو ابتکار تر لاسه کړ."


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de